دافغانستان اسلامی جمهوریت
د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

ECC

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

# مطبوعاتی خبرتیا

**سپتمبر ۱۰، ۲۰۰۹**

**د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون په غزنی ولایت کی د ۲۷ رایی ورکونی له محلونو څخه د ځینو صندوقونو د رایو د باطلولو امر ورکوی**

د خپلو پلټنو پر مهال، د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون په غزنی ولایت کی د یو شمیر رای ورکولو له محلونو څخه د درغلی څرګند او قانع کوونکی شواهد ترلاسه کړی دی. ځکه خو د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د رایی اچونی د دغو ۲۷ محلونو په یو شمیر صندوقونو کی د اچول شویو رایو د باطلولو امر ورکوی. د رایی اچونی محلونو د باطل شویو رایو لست په لاندی توګه دی.

| | د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د پریکړی شمیره | د رای اچونی مرکز | د رای اچونی محل | انتخابات | پریکړی |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | A-09-00-7042 | 0601046 | 02 | ریاست جمهوری | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۲ | A-09-00-7042 | 0601046 | 02,03 | ولایتی شورا | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۳ | A-09-00-7042 | 0601047 | 01,02 | ریاست جمهوری | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۴ | A-09-00-7371 | 0603072 | 03 | ریاست جمهوری | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۵ | A-09-00-7371 | 0603072 | 03 | ولایتی شورا | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۶ | A-09-00-7371 | 0603074 | 01 | ریاست جمهوری | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۷ | A-09-00-7371 | 0603075 | 01 | ولایتی شورا | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۸ | A-09-00-7371 | 0603075 | 02 | ریاست جمهوری | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۹ | A-09-00-7371 | 0603076 | 01 | ریاست جمهوری | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۱۰ | A-09-00-7371 | 0603076 | 01 | ولایتی شورا | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۱۱ | A-09-00-5062 et al | 0609142 | 01, 02, 03 | ریاست جمهوری | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۱۲ | A-09-00-5062 et al | 0609142 | 01,02 | ولایتی شورا | ټولی رایی دی باطلی شی |
| ۱۳ | A-09-00-5062 et al | 0609143 | 01 | ریاست جمهوری | ټولی رایی دی باطلی شی |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | A-09-00-5062 et al | 0609143 | 02 | ولایتی شورا | تولی رایی دی باطلی شی |
| ۱۵ | A-09-00-5062 et al | 0609163 | 01 | ریاست جمهوری | تولی رایی دی باطلی شی |
| ۱۶ | A-09-00-5062 et al | 0609164 | 01, 02 | ریاست جمهوری | تولی رایی دی باطلی شی |
| ۱۷ | A-09-00-5062 et al | 0609168 | 01 | ریاست جمهوری | تولی رایی دی باطلی شی |
| ۱۸ | A-09-00-5062 et al | 0609169 | 01,02 | ریاست جمهوری | تولی رایی دی باطلی شی |
| ۱۹ | A-09-00-6650 | 0613287 | 01,02,03,04,05 | ولایتی شورا | تولی رایی دی باطلی شی |

تحقیقات او ورپسی پریکړی د هغو شکایتونو په ځواب کی تر سره شوی چی د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د رایی اچونی او رایی شمیرنی په مرحله کی تر لاسه کړی وو. د تحقیقاتو پر مهال د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د درغلی یو شمیر داسی بیلګی ترلاسه کړی چی پکی نه قات شوی رایی، د یوه کاندید رایی د بل کاندید په بندل کی ور اچول شوی، غلطی شمیرل شوی رای، ورک شوی مواد، د نښانونو یو شان والی، د مهرونو هغه شمیری چی د ثبت شویو شمیرو سره یی سمون نه درلود او د رایی ورکوونکو لست چی د بی شمیره جعلی کارتونو شمیری یی لرلی.

د دغو شواهدو او په درغلی سره د رایی اچونی په اړه د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د پریکړو په رڼا کی، د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د انتخاباتی قانون د ۴۹ (۲) او ۵۴ (ه) مادو له مخی د ورکړل شوی واک پر بنسټ دا ضروری او مناسبه ګڼی چی د پورته اړوند یادو شویو انتخاباتی محلونو د ټولو رایو د باطلولو امر ورکړی.

پر دی سربیره، د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته دا امر هم ورکوی چی په لاندینیو محلونو کی د ټولو صندوقونو بیا شمیرنه او تفتیش تر سره کړی.

0609132-01, 03, 04, 05, 06 and 07 (د دواړو انتخاباتو لپاره)

0609157 ټول محلونه ( دواړه انتخابات)

0609156-01, 02, 04, 05 (ولایتی شورا انتخابات)

د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون **A-09-00-5071** او **A-09-00-5082** شکایتونه رد کړل چی ادعا یی لرله چی د ټاکنو خپلواک کمیسیون کارکوونکو هڅه کوله د غزنی ولایت د مختلفو ولسوالیو په ۸۳۴ رای اچونی په مرکزونو کی رایی په درغلی سره وکاروی.

د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د غزنی او نورو ولایتونو په اړه د پاتی شویو شکایتونو تحقیق ته هم ادامه ورکړی ده.

له دی سره د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د اړوند پریکړو بشپړ متن مل دی. په دغه مطبوعاتی خبرتیا کی د یاد شویو ټولو بندیزونو لپاره د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون پریکړی د واک یواځینی سر چینه ده. دغه او نورو ټولو پریکړو ته د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د ویبپاڼی www.ecc.org.af له لاری هم لاسرسی لرلی شی.

د افغانستان د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون یوه خپلواکه اداره ده چې د انتخاباتو د قانون د ۵۲ مې مادې پر اساس را منځته شوې ده چی د انتخاباتو د پروسې اړوند ټول شکایتونه فیصله کړي. شکایتونه باید له سرغړونی وروسته په ۷۲ ساعتو کې د ننه ثبت شي. د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون ته رسیدلی ټول شکایتونه به پر خپل وخت په یوه بی پری او شفافه توګه فیصله شی. د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون به جدي قضیې له اوله تر پایه څیړي او کاندیدان او د دوئ پلویان باید د شکایتونو د پروسې نتیجې ته له صبر نه کار واخلي.
د لا زیاتو معلوماتو لپاره له احمد مسلم خرم سره په لاندې پته اړیکي ونیسئ:

احمد مسلم خرم
ahmad.muslem@ecc.org.af
+۹۳۰۷۹۸۱۸۸۶۰۵